انجنیر سید عبدالقادر

۳۰ـ ۱ ـ ۲۰۰۹

## د غزي اتله !

ستا دغلیم پر وحشتونو جـهانیان پاخیدل    پـه لـویـولارو او کـوڅـو کــي پـه غضـب قـهریـدل
لوي میدانونه دی په وینو دشهیدو سره سول    پر دغه حــال باندي آسمان کي تول مرغان ژړیدل
تـه خو لاهـو پـه خپل غیرت کي ډوب وي    په تیره توره ستا هر کوټ کي سره  ګلان غوړیدل

# دغزي مقاومت ، د اسرائیلي صیهونیستانو
# لویه ماته او دغربیانو ملاتړ

۱ ــ دغزي پر ۲۲ ورځني مقاومت باندي یوه لنډه کتنه :
۲ ــ دنړي دروانو کړکیچونودحل ، او بشریت ته د امن دراتلو اساسي لاره :

دغزي داتلو خلګو ۲۲ ورځني مقاومت او د د وي سره  دن ړیوالو ولسونو سیاسي  ملاتړعملاً  دا ثابته کړه ، چه په نړي کښي  د ولسونو او واکمنانو لاره یوه نه ده ٠ یعني یوه  د ظلم ، وحشت ، بر بری اوجا ه طلبي او بله د وروروګلوي ، ترحم ، شفقت او په سوله کي د ګډ ژوند لاره ده٠چه په واقعیت کښي دواړي لاري مذهبي سرحد نه پیژني. دا په دی معنی چه که  د اسرائیلود صیهونستي رژیم سره په دی یرغل کښي د امریکا د بوش د اداري پر ښکاره غربي نړی  مستقیم او غیر مستقیم خپل ضدی بشری رول  بازی کړ. ولی په دي ځاي کښي  د فلسطین همسایه مملکتونو رول هم د پام وړ دی. او د بله طرفه  د یرغل په مقابله جبهه کښی د غزی د اتلانو تر ښکنګ هم  د جهان ټول ولسونه په یوه ږغ  د دی غیورو اسیرانو سره د لویو لاریونو نو په بهیر کی خپل ملا تړ اعلان ، او د اسرائیلي صیهونستی رژیم یرغل یي  تقبیح کړ ، او باید وویل سي چه  په دي  اکثرو لاریو نونو کی د اسرائیلو او امریکا بیرغونه هم سوځل کیدل. ولی په دی لاریونو نو کښي په زړه پوري خبره دا ده چه د ټولو ادیانو او مذهبونو خلګو  حتی د یهود و په شمول ګډون پکښي  کړی وو.
او هم د ارنګه  د نړی یو تعداد هیوادونو لکه وینزویلا ، بولوویي ، موریتانیا د اسرائیلو ددی یرغل په عکس العمل کښي هم  خپلی ډیپلو ماتیکي اړیکي قطع کړی. ولی د دوحه ( د قطر مرکز) په

کنفرانس کښي چه ( ۱۶ـ۱ـ ۲۰۰۹) چه د۱۳عربی هیوادونو او څلورو نورو اسلامی هیوادونو او د وینزوویلا ( د جمهور رئیس خاص استازي ) او موریتانیا په ګډون جوړ سوی وو، قطر هم خپلی تجارتی اړیکی په تعویق کښي اعلان کړی. او په دی کنفرانس کښی چه د جمهور رئیسانو په ګډون جوړ سوی وو، د سختو غندونو و څنګ ته د اسرائیلو د صیهونستی رژیم څخه د ژر تر ژره د اوربندغوښتنه هم وسوه ٠ولی په دی کنفرانس کښي د سعودی عربستان ، مصر او اردون چارواکو او محمود عباس پکښي ګډون نه درلودلی. ولي د حماس د سیاسي دفتر رئیس( خالد مشعل ) ، رمضان عبدالله ( د فلسطین ادا سلامي جهاد د جنبش رهبر) او دفلسطین د آزادي د خلګو د جبهي رهبر هم په دي کنفرانس کي اشتراک کړي وو. او هم دا رنګه د دی کنفرانس په اختتامیه بیانیه کښي د نورو مهمو ټکو و څنګ ته د اسرائیلي صیهونستي رژیم څخه د دی جنایاتود غرامت اخستل او هم د دوی د لوړ پوړو چارواکو د جنګي جنایتکارانو د محکمی غوښتنه هم وسو.

باید وویل سي چه تر( ۲۲) ورځو وروسته په دي جهانی سرخلاصي زندان کښي د دي تاریخی جنایاتو تر سره کول ودي رژیم او د دوی ملاتړ کوونکو امریکا ( د بوش اداره ) او غربی نړی ته څه په لاس ورکړل ؟ او د دی یرغل څخه يي هدف څه وو.

د جهانی جمعی رسنیو له لاری داسی معلومیږی چه د دی جنګ طرحه د نومبر په میاشت کی جوړه سوی وه. او غوښتل يي چه دا شپږ میاشتنی اور بندیه یوه او بل شکل سره مات او خپل یرغل د غزی پر بي دفاع خلګو باندی شروع کړي. ولي تر اوسه پوری داسی دقیق شواهد میدان ته نه دي راوتلي چه دا اور بند دی د حماس له خوا څخه مات سوی وی. او که یي فرض کړو، چه دا اور بند د حماس له خوا څخه په یوه راکټ باندی چه دوی يي خپله جوړوی مات سوي وی ٠ نو دکوم جهانی اصل او منشور پر اساس باندي د یوه راکټ په عکس العمل کښي ( چه باید په عوض کښي بالمثله عکس العمل ښکاره سوي واي ) په داسي حال کي چه د هغه راکټ خرابۍ او تلفات هم تر اوسه نه دی په ګوته سوی. ولي په عکس العمل کښي يي د اسرائیلو صیهونیستي رژیم له خوا لمړي د غزي(۳۶۰) کیلو متر مربع ښار داسی محاصره کړل سوو، چه حتی خوراکی ټکو لړی يي هم پردوي باندي ودرول. او په دوهم قدم کښي يي پر( اوویشم د دسمبريي) د دروخواوو څخه يي ( هوايي ، بحري ، زمیني ) دا بي دفاع او محاصره ملت تر شدیدو بمباردونو او شلیکونو لاندي راوست. چه د ځینو جمعی رسنیو په حواله په دی یرغل کښي د اسرائیلو د صیهونستي رژیم له خوا ( ۲۲۶ ) جنګي طیارو د ( اف ۱۶ ) په شمول اشتراک کړي وو. چه تنها د یرغل په شروع کښي په لومړنیو ( ۲۲۰ ) ثانیو کښي ( ۸۶ ) جنګی طیارو بمباردونه تر سره کړل.

چه د دوه وینتو ورځو په یوغل کښي (۲۳۰۰ ) هوايي بمباردونه ، او په لس هاوو زره ګولی، د ټانکونو ، توپونو او بحری جنګي کښتیو له خوا پردې محاصره سوي غیور ملت باندي شلیک سوي دي.

چه د دی شلیکونو په نتیجه کښي د ( ۱۵۰۰ ) په حدودو کښي معصوم فلسطینیان په شهادت رسیدلی ، او د ( ۵۰۰۰ ) څخه زیات زخمیان سوي دي . چه ( ۴۰۰ ) څخه يي ډیر شهیدان کوچنیان دي.

او باید وویل سي چه د شهیدانو اکثریت ښځي او کوچنیان تشکیلوي. حتی یوه لویي کورني چه ( ۴۸ ) غړیي درلودل هم تولـه په یوه بمبارد کي په شهادت ورسیدل. ولي دا هم باید هیره نه کړو چه د شهیدانو دا رقم هم دقیق نه دي. دا ځکه چه د دی بي ساری خرابو څخه لا تراوسه پوري انسانان نه دي را ایستل سوي ، چه وروسته بیا ارقام په دقیق ډول تحریر کیدلایسی.

او د دی بمباردونو په نتیجه کښي ( ۵۰۰۰ ) کورونه د منځه تللي ، ( ۱۷۰۰۰ ) نیمه خراب سوي ، ( ۲۵۰ ) دولتي کارخاني او مؤسسي ، ( ۲۰ ) مسجدونه ( ۲۱ ) لوي مدرسي او پوهنتونونه تر لسو ډیري شفاخاني او کلینیکونه ، او د( ۱۳ ) په حدودو کښي سیار صحي موټران بمبارد او شلیک سوي دي. او ډیره عجیبه خو لا داده ، د اسرائیلي جنګي جنایتکارانو په دي یرغل کي د غزي د دی کوچني ښار ( ۸۰ ) فیصده زراعت يي هم د بولدو زرونو او ټانکونو په ذریعه د منځه وړي دي. او تر اور بند وروسته په اوس محال کښي ( ۵۰۰۰۰ ) کسه بي کوره او ( ۴۰۰۰۰۰ ) خلګ د

ځنبلو د اوبو د نیستي سره مخامخ دي. چه د ځینوجمعي رسنیو له مخي د اسرائیلو صیهونستي رژیم دي یرغل د غزي ښار ته د ( لسو ميلیارډو ډالرو ) تاوان رسولي د.
دا هم معلومه خبره ده چه هر نظامی عمل ځانته خپل سیاسی اهداف لری. چه د اسرائیلو د ابي ساري نظامی عمل هم د دی پورتني خبري څخه جلا نه دی. څکه نو دوی هم خپل ځانته سیاسی اهداف درلودله ، داسی معلومیږي چه د دوی اهداف هم په لاندی ډول وه.
۱ ــ د حماس سیاسی جوړښت او د دوی د رهبرانو د منځه وړل یا اسیر کول.
۲ ــ د دوی د یوه سرباز آزادول کوم چه د دووکا لو راهیسي د حماس د مقاومت سره اسیر دي. په داسي حال کي چه په سلګونه فلسطینیان دکلونو راهیسي د اسرائیلو په تورو زندانونو کښي شپي او ورځي تیروي.
۳ ــ په ( ۲۰۰۶ ) کال په لبنان کښي د حزب الله له طرفه د اسرائیلي رژیم د ماتي بیرته تلافي کول .
۴ ــ د غزي پر ښار باندي په نوي ډول سره دکامل تسلط راوستل.
۵ ــ و عربي نړي ته خپل نظامي زور او دنووبشر وژونکو سلاحو ښکاره کول.
۶ ــ چون د محمود عباس د جمهوري ریاست د دوري ختم یعني ( نهمه د جنوري ) هم مخ پر نیږدي کیدو وو ، نو که د اسرائیلو رژیم په غزه کي خپلو اهدافو ته رسیدلي واي ، نو دفلسطین راتلونکي انتخابات به هم داسرائیلو در ژیم او د دوي دغربي حامیانو د هیلو سره سم مخ ته تللي واي ، او خپل ګوډ اګي به یي د جمهوري ریاست پر مقام باندي کښینولي واي.
ولي اسرائیلي رژیم د دی ( ۲۲ ) ورځنیو جنایاتو سره سره ونه کړایسواي چه لږ تر لږه و خپلو سیاسي اهدافو ته ځان نیژدي کړي. بلکه د دی جنګ په عکس العمل کښي خپل نیژدي دوست ( ترکیه ) هم د لاسه ورکړل ۰ او د درو عربي هیوادوحاکمیتونه یي لکه ( سعودي عربستان ، مصر ، اردون ) په عربي نړي کښي هم دسختوسیاسي ستونځو سره مخامخ کړل. او هم دارنګه په نړیوال غبر ګون کښي تول جهاني ولسونه راوپاریدل ، چه دا خپله په سیاسي لحاظ ودوي ته نه تلافي کیدونکي ماته ده.
ولی د دوي د دي بشري او اقتصادی جنایاتو څخه ډک یرغل ،او دبله طرفه دغزي داتلو خلګوبي ساري مقاومت او د جهان د ولسونو او یو تعداد دولتونو راپاریدل. اوهم په لویو لاریونونو او پریکړو لیکونو باندي ملګري ملتونه او په خاصه توګه د امنیت شورا د یو لوي چیلینج سره مخامخ کول، داسرائیلو صیهو نستي رژیم اودوي حامیان ودي ته اړ کړل چه خپله سیاسي او نظامي ماته عملاً قبوله کړي. او دیرغل پر ( ۲۳ ) تمه ورځ باندي یي یو طرفه اور بند اعلان کړ ۰ چه دخپلو غربي پلو یانو له خوا څخه هم دخوښي سبب وګرځیدي ۰ او سیاسي فضا په مجموع کښي په ټول جهان کي د حماس په ګټه او د اسرائیلو د صیهو نیستی رژیم په تجریدیدو واوښتله.
څکه نو غربي نشراتو هم پر خپلو صفحو باندي تر اور بند وروسته د یو تعداد حقایقو په لیکنو باندي شروع وکړه. او یو شمیر غربي چاراوکو هم د دوستانو په څیر په غزه کي د دایمي اور بند او د فلسطینیانو د کشالي د حل له پاره د نوو دروازو څخه وتا لار ته سرونه ور ننه ایستل.
مثلاً : د اوربند څخه وروسته په لومړي هفته کي د المان په محلي رسنیو کي داسي لیکل سوي وه :
( رسانه هاي محلي المان امروز از طرح ۵ ماده ئي وزیر امور خارجه این کشور برای حل مناقشه غزه و بر قراري صلح بین حماس و اسرائیل خبر دادند .
این طرح که به هماهنگی اتحادیه اروپا پیش نهاد میشود ، بر جسته کردن نقش دولت خود ګردان در غزه است. بر ګزاری یک کنفرانس بین المللی برای با ز سازی غزه ، ارائهٔ کمک های دارویي ، غذایي ، وسوخت به غزه ، مبارزه با قاچاق سلاح ، باز ګشایي مرزها و از سر ګیری روند صلح از جمله مفاد این طرح است. )
او یا : ( به ګزارش از ابو ظبی روز چهار شنبه به تاریخ ( ۲ ــ ۱۱ ــ ۸۷ ) توني بلیر رئیس کمیته چهار جانبه صلح خاور میانه در یک سفر رسمی در ابو ظبی اعلام کرد : اګر حماس را حل تا

سیس دو کشور جد ا گانه اسرائیل وفلسطین را بپزیرد ، کمیته چها ر جانبه این گروه مذاکره خواهد کرد.)
په واقعيت کښي د المان د خارجه وزير او توني بلير څرګندوني دغربي واکمنانو د سياست ښکارندويي کوي که دغربي واکمنانو دي څرګندونو ته په لږ دقت وګورو، په ښکاره ډول معلوميږي چه د اسرائيلو د صيهو نستي رژيم هغه بشري جنايات او قتل عامونه چه په غزه کښي يي تر سره کړي دي. دا غربي واکمنان څونه ليري فاصله ځيني نيسي. هغه څوک چه د دي جنګ څخه اګاهي ونه لري د دي څرګندونو پر اساس کيدلايسي داسي فکر وکړي ، چه په غزه کښي تنها اقتصادي خرابي را منځ ته سوي ولي انسانان يي په امن کي ژوند کوي. د اڅرګندوني غربي واکمنان ځکه کوي چه دوي هم په دي جرم کښي په مستقيم او يا غير مستقيم ډول شريک دي. ځکه نو د جنګي جنايتکارانو له پاره نه تنها د هغوي د محکمي غوښتنه نه کوي ، بلکه په دي جنګ کښي دبشري جناياتو نوم هم نه اخلی.

په واقعيت کښي هغه ارقام چه دغزي دبي ګناه انسانانو د زخميانو په هکله ليکل سوي دی دعيني واقعيت څخه ډير ليري بلل کيدلايسي. دا ځکه چه د دي سر خلاصي زندان پر اسيرانو باندي داسي غيري متعارفي سلاحوي استعمال سوي د. چه ټول جهانيان د دوي دا عمل د ژنيو د کنوانسيون څخه لويه سرلغړونه بولي.
چه د دي غير متعارفو سلاحو څخه يو هم فسفري بمبونه دي. چه د دي بمبونو د زخميانو تداويي حتی ډاکټرانو ته مشکله سوي ده. داځکه چه د دي بمبونو تو تي د انسانانو پر هر ځای چه لګيدلي دي اور يي اخستي او هغه ځاي يي سخت ورسوځلي دي. او يا په مجموع کي د جمعي رسنيو په حواله ويلاي سو چه دغزي دا يو نيم ميليون انسانان يي ټوله په روحي سختو فشارونو او تکليفونو باندي اخته کړي دي.
بله مهمه خبره چه د يادوني وړ ده هغه داچه ، هغه بشري جنايات چه د اسرائيلی صيهونستی رژيم له خوا څخه دغزي پر بي دفاع خلګو باندی د يرغل په (۲۲ ) ورځو کی تير سول ، پوره دقيق ارقام او د بشري جنګی جناياتو اخستل سوی فلمونه او عکسونه لا تر اوسه د جهانی جمعی رسنيو پر مخ نه دي راوتلی. دا ځکه چه شايد يا د ژور نالستانو د نه لاس رسی ( ځکه د صيهونستانو له خوا څخه پر ژور نالستانو باندي هم بنديز لګول سوی وو ) او يا دغربي نړی د فشار له کبله به د فعلاً ډپاره ژور نالستانو ډير څه پټ کړي وي ٠ دا ځکه چه دنړي ټول بشر دوستو ولسونوپه لويو لاريونو نو او د ميټينګونو په پريکړه ليکونو کي د دې بشري جنګي جنا ياتو د عاملينو او د دوی د حاميانو له پاره د جهاني بي طرفی محکمی غوښتنه کړي ده. ځکه نو که دا ټول مستند فلمونه او عکسونه د جمعی رسنيو پر صفحو باندي ښکاره سي. نو په هغه صورت کی بيا نه تنها د اسرائيلو صيهو نستي رژيم بلکه د امريکا او دغربي نړي چاروکي هم ترسختو ولسي فشارونو لاندي راځي. چه په نتيجه کي د دوی د حاکميتونو دنوو ټولټاکونو له پاره به سخت ګواښونه رامنځ ته کړي. ولي بيا هم داد امکانه ليري خبره ده چه د اسرائيلو دصيهونستي رژيم دا بشري او اقتصادی جنايات چه يي د(۲۲) ورځو په درشل کي په غزه کښي تر سره کړل ، جهاني ولسونه او يو تعداد ولسونو ته نيژدي چاروکي او خاصتأ اسلامی نړي دی دالويه فاجعه هيره کړي. ځکه نو د دوي په مقابل کي د جهاني ولسونو تنفر خيل لوړ ترين ګراف لاره وه.
۲ ـ اوس نو اصلی خبره داده ، چه په مجموع کښي جهانيان په دی ( يوويشتمه پيري ) کښي د څونو بي ترحمو او بي انصافو جاه طلبواو سرمايه مينو جهاني واکمنانو په زنځيرونو کي بند راغلي دي. چه د هرڅه اختيارات يي ځيني اخستي دي. او دي واکمنانو د ملګرو ملتونو ټول اختيارات او صلاحيتونه په خپلو لاسونو کښي ټينګ نيولي دي ، ځکه نو ځيني سياسي او علمي اصطلاحات دوي له خپلو ګټو سره سم تعريف او تفسيروي ، لکه ( بشر ، بشري حقوق ، تروريزم ، ملي ګټي يا ملي منافع ، تجاوز ، اشغال او داسي نور ). چه په نتيجه کښي ټول جهان يي د ډيرو لويو سياسي ، اقتصادي او امنيتي ګوابنونو سره مخامخ کړي دي.

چه ډېر جهانيان د دي نا برابري عيني  وضع تر تاثير لاندي داسي راغلي دي ، چه د دريمي نړيوالي جګړي د رانيژدي کېدوفکرونه وهي. چه دا خپله په روحي لحاظ لوي فشار او  تکليف دي چه نن د جهان ولسونه ورسره مخامخ سوي  دي. نو د دي  لوی جهاني  بحران څخه د نجات يوا ځني  لاره زما په نظر د ملګرو ملتونو پر اوسني تشکيل، صلاحيتونو او دايمی مقر باندي د (  ٢١ ) تمي  پيړي د غوښتنو سره سم  د جهان دولسونو او واکمنانو يو نوي نظر کول دي. دا  ځکه  چه دا تشکيل او صلاحيتونه  د نړيوالي جګړي وروسته د جګړي د لويو قدرتونو د نظامي او اقتصادي زور په نتيجه کي جوړ او تصويب سوي دي او په دي څو  لسيزو کي د امنيت د شورا د ځينو غړوله خوا د خپلو اقتصادي مخو له پاره د ملګرو ملتونو سازمان څخه  په ځينو وختونو کي  د تيري توري او په ځينو وختونو کي بيا دسپر په حيث استفاده ځيني سوي ده. که په ملګرو ملتونو کي دټولو دولتونو صلاحيتونه يو شان واي ، او  هيڅا دويټو حق نه درلودلاي ، نو  حتمي وه چه په دي وروستي لسيزه کي به په افغانستان، عراق ، لبنان ، سوډان ، او فلسطين کي به دا بشري او اقتصادي ناورينونه نه را منځ ته کيدلاي. ځکه نو دا د يوويشتمي پيړي غوښتنه ده، چه دا سازمان نور بايد د دي بي اعتمادي  او ګوښه نشيني د حالت  څخه ځان راوباسي. او د ټول جهان د ولسونو د ارادو او ارمانونو مظهر بايد  سي. دا  ځکه چه دا سازمان  په اوس محال کي يی  خپل اعتماد او اتوريته د جهان په  ولسونو او دولتونو کي د لاسه ورکړي ده. ځکه نو په نتيجه کي  په جهان کښي تسليحاتي مسابقو زور اخستي او د لويو قدرتونو له بيري  له خپلي دفاع له پاره ځانونه په اټومی  سلاحو باندي تجهيزوي. چه دا خپله و جهان ته يو لوي ګواښ دي چه خاصتاً تر ساړه جنګ وروسته رامنځ ته سوي دي.

نو که په نتيجه کي  د ملګرو ملتونو ټوله فيصلي او پريکړي د اکثريت او اقليت او يا د دووثلثو د رايو پر اصل باندي وسي ، نو په نړي کي به حتی   ډېر هغه څه چه د بشر دبقا په ګټه دي ،  او نن په نړي کښي د ځينو مقاومتونو له کبله  نه تر سره کيږي،  د هغوي د پاره به هم امکانات را منځ ته سي.  لکه  دمځکي د کره د نه  تود والي له پاره تلاښونه چه د څوکلونو راهيسي يی  صرف پر جلساتو باندي اکتفا سوي ده. او و څنګ ته به هم  ټوله  بشر په امن کي خپل د ژوند لمړني ضروري موادوته هم  لاس رسي پيداکړي وي ، او نړي به د پرمختګ په لور په صلح کي د ګډ ژوند   پر اصل باندي خپل  چټک قدمونه اخلی.

تمت بالخير

اخځ :

ــ  فارسي رو ويب پاڼه

ــ د محترم محيط برنامه